# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



## حاجي محمدانورخان اڅکزی

۱۸۷۶ - ۱۹۷۵ م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

حاجی محمدانور خان اڅکزی په ۱۸۷٦ کال کی زیږیدلی او په ۱۹۷۱ م کی وفات شو ، ددوی زیږند ځای د پښتونستان گلستان کلی وو ، په هم دغه کلو کی انگریزانو د پښین سیمه د افغانستان څخه جدا کړه ، او د گلستان خانان په دی خبره د انگریزانو سره سخت مخالف شوه .

څنگه چی د گلستان خانان د غازی عبدالله خان اڅکزی تر غزا وروسته د انگریزانو سره په مخالفت کی وه په دی مخالف ماحول او فامیل کی د محمد انور خان روزنه وه سوله ، او یو انقلابی ذهنیت ئی پیدا کی چی دا انقلابی ذهنیت دده تر ژوند پوری ورسره وو .

ابتدائی تعلیم ئی هم هلته په گلستان کی تر منځنی دوری پوری وه سر ته ورسوی ، سرکاری کار ی نه دی کړی ، په کښت و کر ئی گزاره کاوه .

په ۱۹۱۵ م کی چی غازی امان الله خان د استقلال اعلان وکی ، دی ددغه اعلان په تائید کابل او کندهار ته ولاړی ، چی سم د افغانی پلان سره داخل د جهاد شی ، خو سردار عبدالقدوس خان ورته وه ویل چی اوس په شرقی سرحداتو کی د افغانستان د جنرال محمد نادر خان په واسطه د انگریزانو سره مذاکرات شروع دی ، که دا مذاکرات ناکام شوه ، نو په تاسو ، د « توبی » څخه پرپښین حمله وکی او انگریزان به دی په ځان اخته کی ، چی پر کندهار حمله ونه کړای شی ، نو دی هم هغه کار ته چمتو ناست و مگر هغه روغه سر ته ورسیده .

په ۱۹۲۸ م کی کله چی د انگریزانو دسیسه د غازی امان الله خان او افغانستان پر ضد د سقاو په ذریعه داخلی شورش روان وو ، ده وه انگریزی حکومت ته بغاوت وکی او د ملا خیر محمد او ځینو نورو ملگرو په مرسته د چمن څخه یوه میمه او پرنگی (انگریزه ښځه او انگریز) وه ریگستان ته وتښتول ، چی بیا د افغانی حکومت په وساطت او هدایت هغه یرغمال سوی کسان بیر ته انگریزانو ته سالم او ثابت ورو وه سپارل شوه ، او پر ده باندی په غیاب کی انگریزانو مقدمه وچلوله ، په سقاوی کی دی او مولوی بهرام خان اڅکزی سره د یو شمیر نورو قومی مشرانو د غازی امان الله خان په حمایت داخل د جنگ شوه ، څو دښمن ئی د کندهار وه ایستی ، په دی وخت کی غازی محمد نادر خان کابل فتح او خطبه ئی پر ځان وه ویل ، بیعت ئی و لاس ته راوړی ، نو د کندهار مبارزینو هم خپل بیعت وروليږی او اعلیحضرت محمد نادر خان دی « فرقه مشر ملکی » مقرر کی .

په ۱۹٤٦ کی چی د ویښ ځلمیانو غور ځنگ سر راپورته کاوه ده ئی ملگری وکړه ، او په ۱۹۵۲ کی چی د ویښ ځلمیانو گرفتاری کیدلی دی هم د ځلورو کلو په بند د کابل په دهمزنگ کی بندی سو ، کله چی د بنده راوه وتی صحت ئی خراب سوی وو او د خپل ژوند آخرینی شپی او ورځی ئی تیرولی ، څو په ۱۹۷۱ م کی په کندهار کی وفات سو .



pashtoon.net / pashtun.info September 2017